# تزکیۂ نفس

(د نفس سیدها کولو طریقے)

**23-March-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

23 مارچ 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# تزکيهٔ نفس

(د نفس سيدها کولو طريقے)

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د حضرت سَهل بن سعد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې يوه ورځ سرکارِ نامدار، د رسولانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر تشريف راوړلو، په دې موقع باندې حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ راوړاندې شو او عرض ئې اوکړو: يَا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور پلار دې په تاسو قربان شي، نن په مخ مبارک باندې د خوشحالۍ آثار معلوميږي. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بيشکه اوس جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام زما خوا له راغلے وو او هغه عرض اوکړو: اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چا چې په تاسو باندې يو ځل درودِ پاک اولوستو، الله پاک به د هغه په عمل نامه کښې 10 نيکۍ اوليکي او 10 ګناهونه به ورله وران کړي او 10 درجے به ورله اوچتې کړي.[1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو مددګار

[1]... القول البديع، صفحه:118۔
[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

وئيلے شي، کوم چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، په هغوئي باندې دې درود و سلام وي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیّٰت د اعمالو دار و مدار په نيتونو باندې دے.[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** ښه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاك د رِضا د پاره به په غور بيان اورم. ❁ د علمِ دِين زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ❁ چې څومره کيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ څه چې واورم بخپله به پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم ❁ د خوږ آقا احمدِ مُجتَبٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك واورم نو دُرُودِ پاك به لولَم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د روژه نيوونکو محلّه

حضرت مالِک بن دِينار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير لوئے وَلِـیُّ الله دے، د نورو اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم په شان به هغوئي هم د نفس د خواهشاتو نه د بچ کيدو د پاره ډير زيات محنت کولو. شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په خپل کتاب **فيضانِ رمضان** کښې ليکي: حضرت مالِک بن دِينار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه (د نفس د خواهش نه د بچ کيدو د پاره) په 40 کالو کښې کله هم کجوره اونه

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حديث:1 ۔

خوړله. 40 کاله پس چې کله د هغوئي کجورو خوړلو ته سم زړه اوشو نو هغوئي د نفس د خواهش د زور ماتولو د پاره پرله پسې يوه هفته روژې اونيولې، بيا ئې کجورې واخستې او د ورځې د بصرې شريف د يوے محلّے جُمات ته لاړلو، اوس ئې لا د خوړلو د پاره کجورې راويستې وې چې يو ماشوم چغې کړې: بابا جانه! جُمات ته غير مسلمه راغلے دے. د ماشوم پلار چې دا واوريدل نو په لاس کښې ئې لخته را واخسته او رامنډې ئې کړې خو کله چې ئې حضرت مالک بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوليدلو نو اوئې پيژندلو او معافي ئې اوغوښتله او عرض ئې اوکړو: حُضُور! خبره په اصل کښې دا ده چې زمونږه په محله کښې ټول مسلمانان روژې نيسي، د غير مسلمو نه علاوه دلته د ورځې څوک هم خوراک نه کوي، دې د پاره ماشوم په تاسو باندې د غير مسلمه شک اوکړو. مهرباني اوکړئ! تاسو د دوئي خطا معاف کړئ!

حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جوش په حالت کښې اوفرمائيل: د ماشومانو ژبه غيبي ژبه وي. بيا ئې قسم اوخوړلو چې چرې به هم د کجورو خوړلو نوم هم نه اخلم.[1]

| | |
|---|---|
| رِہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے | ترے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یا ربّ! |
| گناہ بے عدد اور جرم بھی ہیں لاتعداد | معاف کر دے نہ سہ پاؤں گا سزا یا ربّ![2] |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې شکلې واقعه کښې زمونږ د پاره د زدکړې 2 خبرې دي:

## (1) د مخکښينو مسلمانانو د روژې سره محبت

**(1)** په وړومبي نمبر باندې دا اوګورئ! چې مخکښينو مسلمانانو به د روژو سره څومره

[1]... تذکرةُالاولياء صفحه:33 خلاصتًہ۔

[2]... وسائل بخشش، صفحه:78۔

محبت کولو، د روژې مياشتې نه علاوه به په نورو ورځو کښې هم په ټوله محله کښې د رمضان په شان حالت وو، تر دې پورې چې ووړوکي ماشوم هم دا اوګڼل چې کيدے شي د ورځې خوراک (يعني نفلي روژې نه نيول) د غير مسلمو پيژندګلو ده.

**افسوس!** اوس حالات بالکل اُلټا دي، څومره داسې غافله دي کوم چې بغير د څه شرعي مجبورئ نه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک خو اَوّل فرض روژې نه نيسي، دا غټه ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے، بيا پکښې اُلټا دا هم کوي چې ❁ د روژه نيوونکو په مخکښې خوراک څښاک کوي ❁ د سګريټ کش لګوي ❁ پان خوري ❁ تر دې چې بعضې خو دومره زړور دي چې ښه ښکاره اوبه څښي بلکه په خوراک کولو هم نه شرميږي. الله پاک دې مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د بے قدرئ نه محفوظه کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې فرض دي

**ياد ساتئ!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې دوه، څلور يا لس نهٔ بلکه د ټولې مياشتې روژې نيول په هر مسلمان عاقل او بالغ باندې فرض دي، په قرآنِ کريم کښې دي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾
(پاره2،سورة البقرة:183)

مفهوم ترجمه کنزالايمان: اے ايمان والؤ! په تاسو باندې روژې فرض کړے شوي دي څنګه چې په وړاندينو فرض شوي وے چې تاسو ته پرهيزګاري نصيب شي.

اوګورئ! په دې آيت مبارک کښې صفا فرمائيلے شوي دي چې **په تاسو باندې روژې فرض کړے شوې دي** ځکه د شرعي مجبورئ نه بغير د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** يوه روژه هم

پريښودل غټه ګناه ده[1] او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. په کِتابُ الکبائِر کښې دي: کوم کَس چې بغير د څه مرض او عُذر نه د رَمَضَانُ المُبَارَک روژې پرېږدي هغه د زِناکار، قلنګ ټولوونکي او د شرابو عادت لرونکي نه هم بدتر دے.[2]

نصیب تیرے کرم سے چمک اُٹھا یارَبّ!
جہاں میں پھر مہِ رمضان آگیا یارَبّ!
ہے لاکھ لاکھ ترا شکر پھر دیا رمضان
کرم سے ذوقِ عبادت بھی ہو عطا یارَبّ![3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د روژې فائدې او ثوابونه

په قرآنِ کريم او احاديث مبارکو کښې د روژې نيولو ډير فضيلتونه بيان شوي دي، مثلاً ❁ د روژه نيوونکو سړو او زنانؤ د پاره اللّٰه پاک بخښنه او لوئے ثواب تيار کړے دے.[4] ❁ په حديثِ پاک کښې دي په جنّت کښې يوه دروازه ده په کومه چې به صرف روژه نيوونکي داخليږي.[5] ❁ د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې روژې د تيرو ګناهونو کفاره ده.[6] ❁ روژه د دوزخ نه د بچ کيدو د پاره مضبوطه قلعه ده.[7] ❁ روژه به د قيامت په ورځ د روژه نيوونکي د پاره شفاعت کوي.[8] ❁ د رمضان د مياشتې د يوې روژې

---

[1]… رسائل ابن نجیم ، الرسالة الثالثة والثلاثون فی بیان الکبائر والصغائر، صفحہ:353۔
[2]… الکبائر، الکبیرة العاشرة افطار رمضان بلا عذر ولا رخصة، صفحہ:55۔
[3]… وسائل فردوس، صفحہ:26۔
[4]… پارہ:22 ، سورۂ احزاب :35
[5]… بخاری، کتاب الصوم، باب الریان للصائمین، صفحہ:502، حدیث:1896 ملتقطاً۔
[6]… صحیح ابن حبان، کتاب الصوم ، باب فضل رمضان، صفحہ:957 ، حدیث:3433 ملتقطاً ۔
[7]… شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:289، حدیث:3571۔
[8]…مستدرک، کتاب فضائل القرآن، باب الصیام والقرآن، جلد:2، صفحہ:255، حدیث:2080۔

هم په خاموشئ او سکون سره د نیوونکي د پاره به په جنّت کښې د شنو زبرجدو یا سرو یاقوتو کور جوړولے شي.[1] ❁ د روژه نیوونکي اوده کیدل عبادت او د هغه خاموشي تسبیح شمیرلے شي.[2] ❁ د روژه ماتي په وخت د روژه نیوونکي دُعا نه رَد کیږي.[3] ❁ د روژې نیولو سره صحت میلاویږي.[4] ❁ که چرې روژه نیوونکے لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ یا سُبۡحٰنَ اللّٰهِ یا اَللّٰهُ اَکۡبَرُ لولي نو 70 زره فرښتې د لمَر پریوتو پورې د هغه د پاره ثواب لیکي.[5]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اندازه اولګوئ! د روژې نیولو څومره برکتونه دي؟ د مسلمانانو یو شمیر دے کوم چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې نه نیسي، څوک د موسم بهانه جوړوي چې ګرمي ډیره زیاته ده، ځکه روژې نهٔ نیولے کیږي، د چا سره د ګټې غم دے، څوک وائي: حلال رزق خو هم عبادت دے، که روژه اونیسو نو کار به اونکړے شو، چې کار نه کیږي نو بچو له به د کوم ځائے نه خوراک راوړو؟ وغیره وغیره. نن کیدے شي چې د زړه د تسلئ د پاره دا بهانې کار اوکړي خو د قیامت په ورځ به څه کیږي؟ د قیامت په ورځ به د حشر په میدان کښې څومره ګرمي وي! لمَر به یوه نیزه بره په سر ولاړ وي او اور به ورروي، د اوسپنې لمْبه شوې زمکه به وي، دماغ به خوټ کیږي، خوَله به بهیږي، څوک به د زنګونانو پورې خوَله وي، څوک به د ملا پورې خوله وي، څوک به د سینې پورې په خپله خوَله کښې ډوب وي او څوک به هم په خپله

[1] ... معجم اوسط، جلد:1 صفحه:479 ، حدیث:1768۔
[2] ... شعب الایمان، باب في الصیام ، جلد:3 صفحه:415، حدیث:3938۔
[3] ... شعب الایمان، باب في الصیام، جلد:3 صفحه:407 ، حدیث:3903۔
[4] ... معجم اوسط، جلد:6، صفحه:147، حدیث:8312۔
[5] ... شعب الایمان، باب في الصیام، جلد:3، صفحه:299، حدیث:3591۔

خوله کښېږ لامبو وهي، په دې سخته ګرمۍ کښې به د روژه نيوونکو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! تشې مزې وي.

تراویح اور نمازوں میں کمی ہو گی نہ روزوں میں
کرو مل کر یہ نیّت ماہِ رمضان آنے والا ہے
نبی کے عشق میں روؤں، مدینے کے لئے تڑپوں
خُدا دے سوز و رِقّت ماہِ رمضان آنے والا ہے
رہوں قائِم میں توبہ پر، خُدا یا فضل ایسا کر
گُناہوں سے دے نفرت ماہِ رمضان آنے والا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2) د نفس وژلو فضيلت

اے عاشقانِ رَسُول! مونږه د حضرت مالک بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه واقعه واوريدله، لږ غور اوکړئ! زمونږه بزرګانِ دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم، د الله پاک نيک بندګانو به نفس څنګه وژلو، حضرت مالک بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نفس د

خواهش منع کولو د پاره تر 40 کالو پورې کجورې اونه خوړلې، بيا ئې 40 کاله پس د کجورو خوړلو اراده اوفرمائيله نو د نفس نه ئې فيس وصول کړو او وړومبے ئې يوه هفته نفلي روژې اونيولې.

سُبْحٰنَ الله! د مالک بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نفس مړ کولو به څه وايو! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په کلونو کلونو څه خوندور څيز نه خوړلو.عموماً د ورځې د روژې نيولو سره به ئې په وچه ډوډۍ د روژې ماتولو معمول وو. يو ځل ئې د نفس په خواهش باندې غوښه واخسته او يوړله ئې، په لاره کښې ئې بوئي کړله او اوئې فرمائيل: اے نفسه! د غوښې په بوئي کولو کښې خو هم مزه ده! بس د دې نه زياته په دې کښې ستا حصه نشته. دا ئې چې اووئيل نو هغه غوښه ئې يو فقير له ورکړه. بيا ئې اوفرمائيل: اے نفسه! زه د څه دښمنۍ په وجه تا

له تکليف نه درکووم، زه خو صرف تا په دې وجه د صبر سره عادتووم چې د الله پاک د راضي کيدو نه ختميدونکے دولت نصيب شي.[1]

## د تزکيۀ نفس فضيلت

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! تزکيۀ نفس يعنې نفس سيدها کول، دا د بدو عقيدو نه بچ کول او د ښه او صحيح اسلامي عقيدو پابند جوړول، د بدو عادتونو پريښودو او د ښه خبرو عادت لرونکے جوړول، د ګناهونو پريښودو او په عبادت کښې لګول، د باطني بيمارو مثلاً: رياکارئ، ځان ښه

ګڼلو، حسد، تکبر، د دُنيا د محبت، حرص او بخل وغيره نه نفس پاك کول ډير د فضيلت کار دے. په قرآنِ کريم کښې دي:

جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ وَ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ۠﴿۷۶﴾

(پاره: 16 ، سورۀ طٰه:76)

مفهوم ترجَمۀ كنزُ العرفان: د هميشه اوسيدلو باغونه دي د کومو لاندې چې نهرونه جاري دي، هميشه به په دې کښې اوسيږي او دا د هغه بدله ده کوم چې پاک شو.

الله! الله! معلومه شوه: څوک چې د ايمان او نيک اعمالو په ذريعه نفس پاک صفا کړي، د ښه اخلاقو، ښه عادتونو عادت لرونکے ئې جوړ کړي د هغه د پاره د جنّت باغونه دي، د کومو لاندې چې به نهرونه جاري وي.

عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یا خُدا یا الٰہی!

[1]... تذكرةُ الاولياء، صفحہ:33۔

## تزكيۀ نفس د بعثت بنيادي مقصد دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** زمونږه آقا ، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته تشريف راوړو، د هغوئي د تشريف راوړلو په بنيادي مقصدونو كښې يو مقصد تزكيۀ نفس هم دے، الله پاک په قرآنِ كريم كښې فرمائي:

كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ

(پاره :2 ، سورۀ بقره:151)

مفهومِ ترجَمۀ كنزُ الايمان: لكه څنګه چې مونږ در اوليږو تاسو ته يو رسول له تاسو نه چې په تاسو باندې زمونږه آيتونه تلاوت كوي او تاسو پاك كوي.

**مشهور مُفسّرِ قرآن، حكيمُ الاُمَّت** حضرت مفتى احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جسماني، قلبي، روحاني خيالونو وغيره مكملې پاكۍ ته تزكيه وئيلے شي.[1] د آيت مبارک يوه معنٰى دا ده چې اے خلقو! زمونږه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو بدنونه د ظاهري ګند نه پاك كوي چې تاسو ته د پاكۍ طريقې ښائي او ستاسو زړونه د ګنده اخلاقو او عيبونو نه او خيالونو نه د شرک او كفر نه صفا كوي.[2]

## د كاميابۍ اصلي معيار

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دلته خلقو په خپل خپل لحاظ سره د كاميابۍ مختلف معيار مقرر كړے دے، د چا په نِزد مالداره كيدل كاميابي ده، د چا په نِزد مشهوريدل كاميابي ده، څوک منصب او عهده ميلاويدل كاميابي ګڼي، غرض: هر چا د كاميابۍ بيل بيل معيار مقرر كړے دے او هر څوک د خپل معيار مطابق په كاميابۍ پسې منډې وهي خو

---

[1]... تفسير نعيمى، پاره:1، سورۀ بقره، زير آيت :129، جلد:1، صفحه:739 ۔

[2]... تفسير نعيمى ، پاره :2، سورۀ بقره، زير آيت:151، جلد:2، صفحه:65۔

د اصلي کامیابۍ معیار څه دے؟ زمونږه خالق او مالک، زمونږه خوږ الله پاک کوم چې دا دُنیا پیدا کړه، مونږ ئې پیدا کړو، په دې کښې ئې آباد کړو، د هغه رَبِّ کائنات په نز د کامیابۍ معیار څه دے؟ راځئ! د قرآن آیتونه واورئ! الله پاک په سیپاره 30، سُورَۃُالشَّمْس کښې 7 قِسمونه ذِکر کولو سره اوفرمائیل:

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝۹ وَ قَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۝۱۰

(پارہ:30، سورۂ شمس: 9-10)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: بیشکه چا چې نفس پاک کړو هغه کامیاب شو. او بیشکه چا چې نفس په ګناهونو کښې پټ کړو هغه ناکامه شو.

معلومه شوه: ✿ د کامیابۍ معیار **عزّت** او **شهرت** نه دے ✿ د کامیابۍ معیار **مال او دولت، عیش او عشرت، لوئے منصب** نه بلکه د کامیابۍ معیار څه دے؟ **تزکیۂ نفس...!!** کامیاب دے هغه کَس دے کوم چې د خپل نفس تزکیه اوکړه، خپل نفس ئې د بدو عقیدو، بدو اخلاقو، بدو عادتونو او باطني مرضونو نه پاک کړو او، چا چې خپل نفس پاک نه کړو، هغه که د دُنیا په لحاظ سره څومره هم اوچت ځائے ته اورسي، هغه کامیاب نه دے، په حقیقت کښې ناکامه دے.

## بادشاه یا د غلامانو غلام

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خبره ډیره آسانه او د پوهیدو ده، څوک چې د غلامۍ په زنځیرونو کښې راګیر وي، هغه که هر څومره هم پیسه اوګټي، که هر څومره لوئے منصب ته اورسي، چې هغه دے غلام نو هغه ته په حقیقت کښې کامیاب نشي وئیلے کیدے. د کامیابۍ شروع د آزادۍ نه کیږي. اوس لږ سوچ اوکړئ! د نفس د غلامۍ نه زیاته بده غلامي کومه کیدے شي. یو نیک بزرګ وو، یو بادشاه هغه ته اووئیل: بابا جي!

اوغواړه! څه غواړې؟ نيک بزرګ ډېر په بے نيازۍ سره اوفرمائيل: زه د خپلو غلامانو د غلام نه څه نه غواړم. بادشاه ډېر حيرانه شو، په حيرانتيا سره ئې اوئيل: زه او غلام...!! زه خو بادشاه يم. نيک بزرګ اوفرمائيل: تۀ د حِرص او هوس غلام ئې، او دا دواړه نفساني خواهشات زما غلامان دي، څکه تۀ زما د غلامانو غلام ئې.

اصل او د ټولو نه بدتره غلامي هم دا ده چې انسان د خپل نفس غلام شي، څکه که چرې څوک ټوله دُنيا هم فتح کړي، که هغه خپل نفس فتح نه کړو، حِرص او هوس ئې قابو نه کړو، د خپل ځان د دننه ئې حسد، تکبر، غرور او ځان ښه ګڼلو په شان ماران او لړمانان مړه نه کړل، هغه کامياب نه دے، په حقيقت کښې غلام دے.

الله پاک دې مونږ ټه د نفس د غلامۍ نه آزادي نصيب کړي، کاش! مونږه د نفس و شيطان نه بچ شو او صرف د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري اختيار کړو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

مُحيط دل په ہوا ہائے نفسِ امّارہ — دماغ پر مرے ابلیس چھا گیا یارب!

رہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے — تِرے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یاربّ!

## نفس د هرې بدۍ کور دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تزکيۀ نفس (يعنې د نفس د سيدها کولو کوشش جاري ساتل) ډېر ضروري دے. حُجَّةُ الاسلام امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: نفس د شيطان نه هم غټ دُښمن دے، شيطان ته په مونږ باندې د نفس د خواهشاتو په ذريعه غلبه حاصليږي، څکه که چرې تۀ د نفس په رضا کښې د هغه په

خواهشاتو پسې روان شي نو هلاک به شي، که چرې د نفس په خواهشاتو باندې د غور و فکر کولو نه غافله شي نو د ګناهونو په سمندر کښې به غرق شي، ستا نفس به تا د دوزخ په لور په راښکلو بوځي، ياد ساته! نفس د مصيبتونو جرړه ده، د شرم درَنګ، د ابليس خزانه او د هرې بدئ کور دے.[1]

## نفس دوزخ ته د بوتللو سبب هم کيدے شي

په **مكاشفةُ القُلوب** کښې دي: د حضرت ابو الحسن رازي رحمة الله عليه يو نزدې خپل وفات شو، د هغه د وفات نه پس حضرت ابو الحسن رازي رحمة الله عليه هغه په خوب کښې په دې حالت کښې اوليدلو چې هغه د دوزخ جامې اغوستې وې. هغوئي ترې پوښتنه اوکړه: دا څه اوشو؟ زه تا د دوزخيانو په جامو کښې وينم؟ وفات شوي کَس اووئيل: زه خپل نفس دوزخ ته بوتلم، تهٔ چرې هم د ده په ټګئ کښې مه راځه...!![2]

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر | نفس وشیطاں سیّدا! کب تک دباتے جائیں گے[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نفس تزكيه څنګه اوکړو؟

**اے عاشقانِ رَسُول!** تزكيهٔ نفس يعنې (د نفسِ اَمَّاره د ټيک کولو طريقے) ډيرې ضرورې دي، ګنې نو دا ظالم نفس به مونږه د دُنيا په فاني خوندونو کښې اونښلوي، د ګناهونو عادت لرونکے به مو جوړ کړي او د نافرمانئ په لارو به مو روان کړي او د دوزخ ژورې کندې ته به مو غوزار کړي، دې د پاره اوس موقع ده، چې مونږه د نورو د عيبونو لټولو، د

---

[1]... مكاشفة القلوب مترجم، صفحه:46 خلاصةً ۔
[2]... مكاشفة القلوب مترجم، صفحه:51-52 خلاصةً ۔
[3]... حدائق بخشش، صفحه:155۔

نورو په اخلاقو او کردار کښې د ګوتو وهلو په ځائے، خپل رَبّ ته پام اوکړو او د خپل ځان تيک کولو په فِکر کښې اخته شو.

بڑے مُوذی کومارا نفسِ اَمّارہ کو گر مارا | نہنگ واژدہا وشیر نَر مارا توکیامارا

**وضاحت:** نفسِ اَمّاره يعني په ګناهونو باندې راپارولو والا. مګر مچهه مار او ازمرے وژل څه غټه خبره نه ده غټ کار خو د نفسِ اماره وژل يعني د ګناهونو نه منع کيدل دي.

## افضل ترين عمل

حضرت ابو سُليمان داراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د نفس مخالفت افضل ترين عمل دے.[1]

الله کے نبی سے فریاد ہے نفس کی بدی سے
ایمان پہ موت بہتر او نفس تیری ناپاک زندگی سے

## د نفس د زور ماتولو بهترين موسم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د الله پاک ډير کرم دے چې هغه مونږه ګنهګارانو له د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نعمت راکړو، رَمَضَانُ الْمُبَارَک د نفس د زور ماتولو بهترين موسم دے. که چرې مونږه په صحيح معنو کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک قدر اوکړو، لکه څنګه چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک تيرول پکار دي، هم هغه شان په تيرولو کښې کامياب شو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د نفسِ اَمَّاره (يعني په بدو باندې د راپاروونکي نفس) زور به مات شي او که الله پاک اوغوښتل نو باطن به مو صفا صفا ښکلے شي.

رَمَضَانُ الْمُبَارَک څنګه تيرول پکار دي؟ ✿ د غفلت نه د بچ کيدو سره رمضان تير کړئ! ✿ کوشش اوکړئ چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک هر ساعت په څه نه څه انداز کښې په

---

[1]... كشفُ المَحْجوب، صفحه:209۔

عبادت کښې تير شي، کله تلاوت وي، کله ذِکر او درود، پينځه واړه لمُونځونه په جَمعه د تکبيرِ اُولٰی سره ادا شي، د تَهَجُّد، اشراق و ساخت او اَوَّابينو نوافل هم پاتې نه شي، په ګرځيدو، کښيناستو پاڅيدو ژبه په ذِکر او درود لمْده وي ❀ د دُعاګانو غوښتلو مياشت ده، ښه ډيرې دُعاګانے اوکړئ، د ځان، د خپل کور والوؤ، د خپلو خپلوانو بلکه د ټول مسلمان اُمّت د پاره د بخښنې دُعاګانے اوکړئ! چې د نفس زور اوبه شي، د شيطان نه خلاصے بيامونده شي، زړه پاک صفا روښانه شي، په نيکو کښې زړه اولګي، د ګناهونو نه نفرت شي، د الله پاک نه دا خيراتونه اوغواړئ! ❀ ټولې روژې اونيسئ! ❀ ښه په شوق سره تراويح هم پوره 20 رکعته ادا کړئ! ❀ ښه د زړه په شوق د قرآنِ کريم تلاوت هم اوکړئ! ❀ بلکه رَمَضَانُ الْمُبَارَک د قرآن د نازليدو مبارکه مياشت ده، په قرآنِ کريم باندې د ځان پوهه کولو کوشش هم اوکړئ! د دې د پاره **تفسيرِ صِراط الجنان** اولولئ! نوے او ډيره په آسانه اردو ژبه کښې ليکلے شوے بهترين تفسير دے، په دې کښې آسانه د قرآن ترجَمه کنزُ العرفان هم شامِل دے، د قرآنِ کريم د لفظي ترجمے زده کولو، په دې د پوهيدو د پاره **معرفةُ القرآن** اولولئ! د **تفسير صراطُ الجنان** او د **معرفةُ القرآن** موبائل ايپلي کيشن هم موجود دے، په خپل موبائل کښې دا دواړه ايپلي کيشنز انسټال کړئ! د دې نه فائده واخلئ او د قرآن په نُور باندېسينه روښانه کړئ! ❀ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک يو خاص عبادت اعتکاف اوکړئ!اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم!ډير کرم به اوشي.

## د اجتماعي اعتکاف ترغيب

**اے عاشقانِ رَسُول!** اعتکاف زوړ عبادت دے، په نورو اُمَّتونو کښې هم د اعتکاف عبادت موجود وو. د **2023**ء **په رمضانُ** المُبارک کښې دعوتِ اسلامي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم!په ټوله مياشت کښې په **23 ځايونو** کښې او د آخري عشرې د **13500 نه په زياتو ځايونو** کښې د اعتکاف کولو اراده لري. تاسو هم د روژې د ټولې مياشت يا کم از کم د آخري

عشرې د اجتماعي اعتکاف نیت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د ګناهونو نه د بچ کیدو، د نیکو کولو، د نفلي عبادتونو شوق زیاتولو سره سره به ډیر زیات عِلمِ دِین د زده کولو د پاره میلاؤ شي.

## د تزکیۀ نفس 3 طریقے

حُجَّةُ الاسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **تزکیۀ نفس** یعنې د نفسِ اَمَّاره د زور ماتولو، د ده د سمولو 3 بهترینې طریقے ارشاد فرمائیلې دي. که چرې مونږه په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د **تزکیۀ نفس** دا درے طریقې په ځان باندې نافذې کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! نفسِ اَمَّاره به سم شي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو د باطِن پاکي به نصیب شي.

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږه علمائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم اوفرمائیل: د 3 څیزونو په مرسته د نفسِ اَمَّاره زور ماتیدے شي: (1) د خواهشاتو نه منع کیدل (2) په نفس باندې د عبادتونو بوج غورځول (3) د الله پاک نه مدد غوښتل.[1]

## (1) د خواهشاتو نه منع کیدل

د نفس د ټولو نه غټه بدي دا ده چې دا خواهشات پالي، که چرې مونږه د نفس خواهشات پوره کول پریږدو نو د ده زور به یخپله مات شي.

حضرت جنید بن محمد خزاز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو ځل زه د شپې راپاڅیدم او په خپله وظیفه کښې مشغول شوم، خو ما په دې کښې هغه خوند اونه موندلو کوم چې به ما مخکښې موندلو ځکه ما د اوده کیدو اراده اوکړه خو اوده نه شوم، ځکه کښیناستم خو

[1] ... منهاج العابدين، صفحہ: 143ملتقطاً ۔

ناسته مې هم اونکړے شوه نو بهر لاړم، څه کورم چې یو ګس په کمبل کښې ځان رانغښتے دے او په لاره کښې پروت دے، کله چې هغه زما په راتلو خبر شو نو اوئې وئیل: اے ابو قاسم! لږ زما خوا له تشریف راوړئ. ما اووئیل: اے محترمه! تاسو د راتلو څه خبر رانکړو. هغه ګس اووئیل: آؤ جي! ما د الله پاک په بارګاه کښې سوال اوکړو چې هغه ستا زړه زما په لور متوجه کړي. ما اووئیل: هغه ستا په لور متوجه شوے دے، (اوس اووایه) ستا څه حاجت دے؟ هغه اووئیل: د نفس بیماري د هغه (د نفس) علاج کله جوړیږي؟ ما اووئیل: کله چې تهٔ د نفس په خواهش کښې د هغه مخالفت اوکړې. بیا هغه خپل نفس طرف ته تَوَجُّه اوکړه او اوئې وئیل: **اے نفسه! اوس دې واوریدل! ما تا له اووه ځله د دې خبرې جواب درکړو خو تا انکار اوکړو او اودې وئیل: چې زه به ئې د حضرت جنید** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **نه اورم (نو اوس تا واوریدل؟).** هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې هغه ګس لاړو او ما هغه اونه پیژندلو.[1]

دا ده د تزکیۀ نفس د ټولو نه اثرناکه طریقه...!! چې نفس د خواهشاتو نه منع شي. که چرې مونږه دا اوکړو نو څه به میلاؤ شي؟ الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰىۙ(۴۰) فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰىؕ(۴۱) (پاره :30 ، سورۀ نازعات:40-41) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الایمان: او هغه کوم چې د خپل رَبّ په حضور کښې د اودریدلو نه اویریدو او نفس ئې د خواهش نه منع کړو بیشکه جنّت ئې ځائے دے. |

دا دوه خبرې دي: (1) بنده د الله پاک په حضور کښې د حاضریدو نه اویریږي، دا ویره هغه په زړه کښې درِدوي چې آه! یوه ورځ مره کیدل دي، تیارۀ قبر ته کوزیدل دي، بیا د

[1]... لباب الاحیاء، صفحہ:217۔

قیامت په ورځ راپاځیدل هم دي، آه! هغه د حشر میدان... هغه د تانبے سرهٔ شوې زمکه... اور ورووڼکے لمَر... قهر ته به مخامخ کیدل وي، عمل نامے به بیرته کیږي، په دې حالت کښې به د الله پاک په حُضُور کښې حاضري وي، زما د ژوند یو یو عمل به مخامخ وي، هغه وخت به زما څه کیږي؟ دا ویره مو دړدوي (2) او دویمه خبره: انسان خپل نفس د خواهشاتو نه منع کړي. چې دا دوه کارونه کوؤ نو څه به میلاویږي؟ الله پاک فرمائي:

فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِیَ الْمَاْوٰىؕ(۴۱)
(پاره :30 ، سورهٔ نازعات:40-41)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الایمان: نو بیشکه جنّت ځې ځائے دے.

جنّت به میلاویږي. واه...!! څومره ښکلے فضیلت دے...!! چې مونږ ته یو څو زره روپۍ ګټل وي نو ټوله ورځ محنت کوؤ، کار، کار، بس کار مو هر وخت په دماغو کښې وي،بیا چرته یو څو سوه یا یو څو زره روپۍ میلاویږي. د الله پاک د رحمت نه ځار شم! کار څه دے؟ نفس د خواهشاتو نه منع کول دي، چې دا کوؤ نو څه به میلاویږي؟ جنّت. هلته همیشه پاتې کیدونکي نعمتونه، نه ختمیدونکے ژوند...!!

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا | ہم مفلس کیا مول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [1]

## مریض پخپله طبیب جوړ شو

نقل دي، حضرت خواجه نظامُ الدین اولیاء رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه ډیر زیات بیمار شو. مریدانو ئې عرض اوکړو، دلته یو پنډت دے دَم کوي او د هغه عِلاج ډیر کار کوي که چرې حُکم کوئ نو هلته مو بوځو. اوئې فرمائیل: زه به د عِلاج د پاره د غیر مسلمه خوا له نه ځم. مرض نور هم زیات شو او هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه بے هوشه شول. مریدانو را اوچت

[1]... حدائق بخشش، صفحہ:186۔

کړو او هم د هغه **پنډت** خوا له ئې بوتللو، هغه دَم کړو نو هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ په هوش کښې راغے او روغ شو. هغوئي ځان روغ بیاموندو، پنډت ئې چې اولیدلو نو پوښتنه ئې اوکړله، تا ته په عِلاج کښې دا مهارت څنګه حاصل شو؟ اوئې وئیل: زما ګُرو (یعنې اُستاذ) زما نه بچن (لوظ) اخستے وو چې نفس درته څه وائي د هغې اُلټا کوه. ځکه چې زما کله ښځو اوبو ته زړه اوشي نو ګرمې اوبه څښم، چې وريژو ته مې زړه اوشي نو ډوډۍ خورم دغه شان د نفس د وئیلو په اُلټا کولو سره په ما کښې دا طاقت راغلے دے. هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ اوفرمائیل: دا اووایه، ستا نفس د مسلمانیدو اجازت درکوي یا نه؟ اوئې وئیل: منع کوي مې، اوئې فرمائیل: دا د مسلمانیدو نه منع کوي نو ستا د اُصولو مطابق تا ته د دې د اُلټا کولو سره مسلمانیدل پکار دي. دا خبره هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ په دومره ښکلي انداز کښې ارشاد اوفرمائیله چې د اثر غشے جوړ شو او د هغه په زړه اولګیدو او هغه بے اختیاره اووئیل، زه د خپل کفر نه توبه کووم او مسلمانیږم او اوئې وئیل: لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

سُبْحٰنَ الله! هغه د حضرت خواجه نظامُ الدین رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د ظاهر علاج اوکړو او هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د هغه د احسان بدل ورکړو او د هغه د باطن علاج ئې اوکړو، هغه د هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د بدن علاج اوکړو، هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د هغه د روح علاج اوکړو، هغه ظاهري مرض لرې کړو هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د هغه باطني یعنې د کُفر مرض لرې کړو![1]

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی | بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

## د نفس مخالفت په کومو کارونو اوکړے شي!

حُضُور غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ فرمائي: که چرې کامیابي غواړې

---

[1]...فیضان سنت،صفحہ:736-738۔

نو د خپل رَبِّ کريم په اطاعت کښې د نفس مخالفت اوکړه! که چرې نفس د رَبِّ کريم د اطاعت (يعنې د نيک اعمالو) کولو خواهش اوکړي نو داسې خواهش پوره کړه او که چرې د رَبِّ کريم د نافرمانۍ خواهش اوکړي نو د دې نه منع شه...!![1]

نفس و شیطاں پر مجھے غلبہ عطا کر یاخُدا! | اُس علی کا واسطہ دیتاہوں جو ہے تیر اشیر

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2) په نفس باندې د عبادت بوج اوغورځوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د تزکيۀ نفس د پاره چې دويم کوم خيز ډير ضروري دے، هغه دا دے چې په نفس باندې د عبادت بوج اوغورځولے شي. نفس فطري طور سُست او خوندونه خوښوي، دا به په عبادت باندې نه مائله کيږي، البته مونږ له پکار دي چې مونږه نفس دباؤ کړو او، د ده د مخالفت کولو سره عبادت ته ملا اوتړو ❀ پينځه واړه لمُونځونه په جَمعه سره ادا کړو ❀ د دې سره سره نوافل هم ادا کړو ❀ تَهَجُّد هم اوکړو ❀ د اشراق و ساخت او اَوّابينو نوافل هم ادا کړو ❀ ذِکر او درود هم اوکړو ❀ زيات تلاوت هم اوکړو ❀ غرض: چې خومره زيات کيدے شي په عبادت کښې زره اولګوؤ، په شروع کښې به څه مشکلات وي، بيا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په مزه مزه نفس عادت شي او په عبادت کښې به خوند ميلاؤيدل شروع شي، بيا به نفس پخپله د عبادت په لور مائِل وي.

## د بزرګانو د عبادت انداز

زمونږه د اسلافو (يعني د الله پاک نيک بندګان کوم چې متقيان وو، پرهيزګاران وو د هغوئي)

[1]... الفتح الربانی، ص:160۔

سره به بس د قبر و آخرت فِکر وو او هغوئي به هر وخت د قبر په تيارئ کښې مصروف وو ❀ خواجه سِرّي سَقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 98 کاله په دُنيا کښې تشريف فرما وو، د څنګدن د وخت نه علاوه چا هم هغوئي په ملاسته نه وو ليدلے، هميشه به ئې عبادت کولو ❀ محمد جريري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو کال په مکه مکرمه کښې پاتې وو، نه اوده شو، نه ئې ملا نيغه کړه، نه ئې ښپې خورې کړې ❀ اويس قرني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د سحر لمُونځ ادا کولو نه پس ذِکرُ الله شروع کړو، ماسپخين به شو، د ماسپخين نه پس به بيا د الله په ذِکر کښې مصروف شو، تر دې چې مازديګر به شو، د مازديګر نه تر ماښامه پورې، د ماښام نه تر ماسخُتنه پورې، د ماسخُتن نه تر د سحره پورې به ناست وو او ذِکرُ الله به ئې کولو ❀ حضرت ابو بکر عياش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هره ورځ 30 زره ځله سورۂ اخلاص لوستلو، هره ورځ به ئې 500 نوافل ادا کول، په ورځ کښې به ئې څو څو ځله د قرآن کريم ختم کولو ❀ امام اعظم، امام ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 40 کاله د ماسخُتن په اودس باندې د سحر لمُونځ ادا کړو، هره شپه به ئې په 2 رکعتو کښې د قرآنِ کريم ختم کولو.[1]

## په عبادت کولو کښې هم د حکمت نه کار اخلئ!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږ له په نفس باندې د عبادت بوج غورځول دي، خامخا غورځول دي، البته د دې د پاره د حکمت نه کار اخستل دي، ګنې نو نفس ډېر سُست، مکّار او زر زړه مړيدونکے دے، داسې نه وي چې په جوش جوش کښې مونږه شپه ورځ عبادت شروع کړو، بيا يو څو ورځې پس د نفس زړه موړ شي او د عبادتونو سلسله موقوفه شي. ځکه په نفس باندې که د عبادت بوج هم غورځوئ نو په حکمت سره ئې پرې غورځوئ، مثلاً په شروع شروع کښې دې صِرف يو قِسم عبادت اونکړے شي

[1]... جواهِرُ البيان، صفحه:32-33 ملتقطاً.

بلکه مختلف قِسم عبادتونه دې اوکړے شي مثلاً څه وخت دې د نوافلو جدول جوړ کړے شي، څه وخت درودِ پاک اولولئ، څه وخت تلاوت اوکړئ، څه وخت د ښه ښه نیتونو سره څه دیني کتاب اولولئ، په مینځ کښې څه لږه شان دمه کوئ، خپل ضروري کارونه وغیره هم کوئ، دغه شان د هرې ورځې شریک جدول کیږدئ، دغه شان به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! شوق په ځائے وي، استقامت به هم میلاویږي او که الله پاک اوغوښتل نو د نفسِ امَّاره زور به هم مات شي.

## نیک اعمال خپل کړئ!

په نفس باندې د عبادت د بوج غورځولو د پاره یو بهترین حکمت هغه دے کوم چې د دې وخت عظیم علمي او روحاني شخصیت شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه عطا کړے دے. یعني **نیک اعمال.** د اسلامي وروڼو د پاره **72** نیک اعمال دي، د اسلامي خویندو د پاره **63**، د طالب علمانو د پاره **92** او د وړو ماشومانو د پاره **40.** دا نیک اعمال خپل کړئ، په دې کښې به ډیر زیات عبادتونه میلاؤ شي، مثلاً ❀ په دې کښې یو نیک عمل پینځه وارهٔ لمُونځونه د جَمعې سره د ادا کولو په حقله دے ❀ د ښه ښه نیتونو کولو نیک عمل دے ❀ په دې کښې نوافل هم شامل دي ❀ تلاوت ❀ ذِکر او درود ❀ مختلف سُنّتونه ❀ سلیقه شِعَاري ❀ مختلف آداب وغیره ډیر څه دي. که چرې مونږه دا نیک اعمال په خپل ځان باندې نافِذ کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډیر په آسانه به د نفسِ اَمَّاره په زور ماتولو، د ده په تیک کولو کښې کامیاب شو.

میں نثار ایسا مسلماں کیجے | توڑ ڈالیں نفس کا زُنّار ہم[1]

[1] ... حدائق بخشش، صفحه:84۔

## (3): د اللّٰه پاک نه مدد غواړئ!

د تزکیۀ نفس د پاره د ټولو نه اهمه خبره کومه چې ډیره ضروري ده هغه دا ده چې د اللّٰه پاک نه دُعا غوښتل هیڅ کله هم مه هیروئ ځکه چې نفسِ اَمَّاره ډیر سرکشه دُښمن دے، شیطان کوم چې د بے لارې کیدو نه مخکښې ډیر لوئے عالِم او عبادت کوونکے وو او ډیر چالاکه او مکّاره هم دے، د نفسِ اَمَّاره سره هغه هم مقابله اونکړے شوه، هغه بدبخته هم نفسِ اَمَّاره بے لارې کړو او د همیشه د پاره ئې کافِر او نامُراده کړو نو سوچ اوکړئ! مونږ به د نفسِ اَمَّاره مقابله څنګه اوکړو. ځکه چې د اللّٰه پاک مدد راسره وي نو بیا به د نفسِ اَمَّاره نه خلاصے بیاموندے شي. د اللّٰه پاک د نبي حضرت یُوسف عَلَیْہِ السَّلَام دا ښکلے فرمان په قرآنِ کریم کښې هم موجود دے، هغوئ اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیْؕ<br>(پاره :13،سورۀ یوسف :53) | مفهوم ترجَمۀ کنزُ الایمان: بیشکه نفس خو د بدئ لوئے حکم کوونکے دے خو په چا باندې چې زما رَبّ رحم اوکړي. |

یعني نفسِ اَمَّاره د بدئ ډیر لوئے حکم کوونکے دے، د ده د شَر نه هغه انسان بچ کیږي په چا باندې چې د اللّٰه پاک رحم او فضل وي.

## د مُصطفٰی یوه دُعا

حضرت عبد اللّٰه بن عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د اللّٰه پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د سُورَةُ الشَّمس دا آیتونه تلاوت کول:

| | |
|---|---|
| وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۙ﴿۷﴾ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۙ﴿۸﴾<br>(پاره :30،سورۀ شمس :7-- 8) | مفهوم ترجَمۀ کنزُ الایمان: او د ځان او د هغه کوم چې هغه ټیک جوړ کړو بیا ئې د هغه بدکاري او د هغه پرهیزګاري په زړه کښې واچوله. |

بیا به ئې دُعا غوښتله: اَللّٰهُمَّ آتِ نَفْسِی تَقْوَاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا وَخَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا [1] ترجَمه: اے الله پاکه! زما نفس ته تقوٰی عطا کړه، هم ته د ده مالِک او مولٰی ئې ، او هم ته ده ته بهتره پاکي عطا کوونکے ئې.

| | |
|---|---|
| نفس نے لذتوں میں پھنسایا | مجھ پہ لطف و کرم ہو خُدایا! |
| دل سے چاہت مِٹا ما سِوا کی | میرے مولٰی تو خیرات دیدے! |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: علاقائي دوره

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د زړه نه د زنګ لرې کولو، د ګناهونو نه د توبه کولو، او نیک لمُونځ ګزاره جوړیدلو د پاره د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول لمَن اونیسئ. په 12 دیني کارونو کښې هم پوره حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دین او دنیا بیشمیره خیر به مو نصیب شي. په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار **علاقائي دوره** هم ده. راځئ! د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو!

## غیر مسلمه مسلمان شو

د پاکستان د صوبهٔ پنجاب د دعوتِ اسلامي یو مبلغ بیان دے، یوه ورځ زمونږ ځائے ته د کراچئ نه مدني قافلے تشریف راوړو، د مدني قافلے والؤ سره په شریکه ما ته هم په علاقائي دوره کښې د شرکت کولو شرف میلاؤ شو، مونږه د یو درزي د دُکان نه بهر خلق راجمع کړي وو او د نیکئ دعوت مو ورکولو، کله چې بیان ختم شو نو د هغه دُکان

[1]… معجم کبیر، جلد:5، صفحه:283، حدیث:11028۔

يو ملازم څلمي اووئيل: **زه غير مسلمه يم**. ستاسو د نيکئ دعوت زما په زړه باندې ډير اثر کړے دے، مهرباني اوکړئ ما هم په اسلام کښې داخل کړئ. بيا اَلْحَمْدُ لِلّٰه! **هغه کلمه اووئيله او مسلمان شو.**

مقبول جہاں بھر میں، ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دتجهيز و تکفين ايپلي کيشن

**اے عاشقانِ رسول!** نن د ټيکنالوجي دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د عاشِقانِ رسول

ديني تحريك دعوتِ اسلامي د اسمارټ فون(**Smartphone**) په ذريعه هم علمِ دِين عام کولو کوشش کوي. په دې حوالے سره د دعوتِ اسلامي آئی. ټي ډيپارټمنټ له طرفه مختلف موبائل ايپلي کيشن جاري شوي دي، په هغې کښې يو موبائل ايپلي کيشن ***Muslim's Funeral*** دے. په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د مړي د غُسل، کفن او دفن وغيره مُتَعَلِّق اهم معلومات ورکړے شوي دي او يوه خاص خبره دا چې مړي له غُسل څنګه ورکول دي؟ کفن ورته څنګه اغوستل دي؟ د دې عملي طريقے د پاره ***Animated Videos*** هم شامله ده. تاسو دا موبائل ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:مَنْ

اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

**د آخِري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** په ټولو رانجو کښې بهترين رانجه اِثمد دي ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانه راټوکوي.[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د کاني د رانجو په استعمالولو کښې هيڅ باک نشته او ❀ تور رانجه يا کاجَل د ښائسته کيدو په نيت سره د نارينؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نه وي نو بيا مکروه نه دي ❀ رانجه د شپې د اوده کيدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ❀ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوؤ طريقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کوو: **(1)** کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلاياني **(2)** کله په ښئ سترګه کښې 3 سلاياني او په ګسه سترګه کښې 2 **(3)** نو کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بيا په آخِره کښې يوه سلائي په رجړومه [د رانجو ګسوړه] کښې اووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! په دريو واړو طريقو باندې عمل کيږي.

---

[1]... مشکوٰۃ،کتابُ:الْاِیمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحہ:55، حدیث:175۔

[2]... ابن ماجہ، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحہ:566، حدیث:3497۔

**اے عاشقانِ رَسُول!** د تکریم چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، څکه ورومبے په ښئ سترګه کښې رانجه پورې کړئ بیا په ګسه کښې . (1)

| | |
|---|---|
| عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں |

**یاد ساتئ!** که چرې روژه وي نو په سترګو کښې د رانجو پورې کولو سره روژه نه ماتیږي، بلکه نبئ رحمت، شفیعِ اُمّت صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل صحابي ته د روژې په حالت کښې د رانجو پورې کولو اجازت عطا کړو.

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدینه **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو کتاب **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| عِلْم حاصِل کرو، جَہْل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو [2] |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ:38۔

[2]...وسائلِ بخشش ،صفحہ:669ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩
3... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵